**د تنظيم الدولة (داعش) له خوا د خلافت د اعلان په اړه د حزب التحرير د امير رسمي دريځ**

«ژباړه»

ټولو هغو ورونو ته چې د الدولة ګوند له لوري د خلافت د قايمېدو ... د اعلان په اړه يې د تفسير غوښتنه کړې وه، د هغوی د نومونو له يادولو څخه ډډه کوم، ځکه چې نوملړ يې اوږد دی ...

اسلام عليکم ورحمه الله وبرکاته،

له شک پرته ما بايد پر خپل وخت ځواب درته لېږلی وای، خو دا دی درته ليږم يې:

**درنو ورونو:**

**١.** له شک پرته هر ګوند چې په يوه سيمه کې د خلافت د تاسيس د اعلان اراده ولري، پر هغو واجب ده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د طريقې پيروي وکړي. دغه ګوند بايد په دغه خاوره کې ځرګنده واکمني ولري، ترڅو د هغې له لارې خپل کورنی او بهرنی امنيت تامين کړي. دغه راز نوموړې سيمه چې خلافت په کې اعلانيږي، بايد په سيمه کې د يوه دولت د ارزښتونو او ظرفيتونو درلودونکې وي .... دا هغه شرايط دي چې په مدينه منوره کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له خوا د دولت له تاسيس څخه را پاتې دي. هلته سلطان (واکمني) د رسول الله صلی الله عليه وسلم وه، کورنی او بهرنی امان د اسلام او مسلمانانو د واکمنی له لارې ټينګ شوی و او مدينه هم په شاوخوا سيمه کې د يوه دولت د بشپړو وړتياوو او ظرفيتونو درلودونکې وه.

**٢.** هغه ګوند چې اوس يې د خلافت اعلان کړی دی، نه په سوريه کې او نه هم په عراق کې سلطان (واکمني) لري او نه هم په کور د ننه او بهر امان راوستلی شي. آن هغه څوک چې د خليفه په توګه ورسره بيعت شوی دی، نه شي کولای په ښکاره او د خلکو په منځ کې را ځرګند شي. بلکې د دولت له اعلان څخه د وړاندې حالت په شان پټ دی! د نوموړي دغه حالت هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم له حالت سره مخالف دی. ځکه د دولت له تاسيس څخه وړاندې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته اجازه وه چې د ثور په غار کې پټ شي، خو د دولت له تاسيس وروسته هغه صلی الله عليه وسلم د چارو سرپرستي، د لښکر رهبري، د دښمنيو قضاوت، د استازو لېږل او په ښکاره د نورو د استازو هرکلی کاوه. له همدې امله د دولت له تاسيس څخه وړاندې د رسول الله صلی الله عليه وسلم حالت د دولت له تاسيس څخه وروسته د هغه صلی الله عليه وسلم له حالت سره زيات توپير درلود ... په همدې دليل د ګوند له خوا د خلافت اعلان لغوه دی، ځکه هغه د خلافت هېڅ مضمون او محتوا نه لري او دا خليفه د هغو کسانو په شان دی چې مخکې يې د ځمکې د واقعيتونو او ظرفيتونو په نظر کې نيولو پرته، د خپلو نفسونو د ځينو غوښتنو د پوره کولو لپاره يې د خلافت اعلان کړی و. پخوا داسې کسان وو چې چې خپل ځانونه يې خليفه اعلان کړي و او دغه راز داسې کسان هم وو چې خپل ځانونه يې مهدي اعلان کړي وو ...، پرته له دې چې د يوه دولت بنسټونه، سلطان (واکمني)، امن او امان په نظر کې ونيسي!...

**۳.** له شک پرته خلافت د داسي شأن درلودنکی دی، چي شریعت هغه بیان کړی دی. د هغه د جوړولو طریقه، په حکومتولی، سیاست، اقتصاد او نړیوالو اړیکو کي د احکامو د استنباط کیفیت او ... هغه داسي اعلان نه دی چي له مسمی پرته یوازې یو نوم وي، چي یوازې په انټرنټي پاڼو، لیکنیو، غږیزو او تصویري رسنیو کي خپرېږي. بلکي خلافت هغه عظیمه پېښه ده چي نړی ته ټکان ورکوي، په ځمکه کي یي ریښي ژورې، ثابتي او ټینګي وي، سلطان (واکمني) یي کورنی او بهرنی امن په تر ولکي لاندې ځمکه کي تامینوي، په کور دننه اسلام عملي کوي او بهر نړی ته یي د دعوت او جهاد له لارې لېږدوي.

**۴.** هغه اعلان چي د الدولة ډلي له خوا شوی، په الغاء او له منځه تللو محکوم دی. دغه اعلان د الدولة ګوند په واقعیت کي د هېڅ پرمختګ او ورسته تګ لامل نه کېږي. ځکه ګوند د دولت له اعلان وړاندې او وروسته یو وسله وال حرکت دی. د هغه شان د نورو وسله والو حرکتونو په شان دی، چي په خپل منځ او یا هم له اوسنیو نظامونو سره جنګېږي. پرته له دې چي له دغو ډلو څخه هېڅ یوه هم نشي کولای خپله واکمني پر عراق او سوریه او یا هم پر دواړو ټینګه کړي. هغه که هره وسله واله ډله وي، چي له هغي ډلي الدولة تنظیم هم دی. خو که هغه خپله واکمني په داسي خاوره کي وغځوي چي د دولت ظرفیت او وړتیا ولري او د خلافت د تاسیس اعلان وکړي، اسلام بشپړ عملي کړي، هغه وخت موضوع د بحث وړ ده، تر څو ولیدل شي چي که خلافت یي له شرعي احکامو سره سم جوړ کړی و، نو هغه وخت یي پیروي کېږي. ځکه د خلافت تاسیس پر مسلمانانو فرض دی، نه یوازې پر حزب التحریر. نو که څوک خلافت په حق سره جوړ کړي، پیروي یي کېږي ... خو موضوع دغه ډول نه ده، ځکه ټولي وسله والي ډلي ملېشي دي، چي الدولة تنظیم هم له هماغه ډلي څخه دی، چي نه د دولت بنسټونه او ظرفیت، نه پر ځمکه سلطان (واکمني) او نه هم امن او امان لري. له همدې امله د الدولة تنظیم له خوا د دولت اعلان شرعاً لغوه دی، د بحث او ځنډ وړ نه دی او واقعیت یي د عیانو لپاره ښکاره دی.

**۵.** خو څه چي د بحث او ځنډ وړ دي، له دې وېره ده چي دغه اعلان به له سطحي فکرو سره د خلافت پر مفکورې سلبي او منفي اغېز ولري، یعني له هغوی سره به د خلافت مفکوره د هغه د عظمت له مرکز څخه را ولوېږي، د مسلمانانو په منځ کي به یي اهمیت را کم کړي. دې مفکورې ته به تر هغي پورې سقوط ورکوي چي یوازې د هغو تشو احساساتو په څېر به ښکاري چي کله نا کله له ځینو شخصیتونو څخه ښکاره کېږي. له دې وروسته به هر یو را پاڅېږي او په یوه ساحه، میدان او یا هم کلي کي به خپل ځان خلیفه اعلانوي، بیا به له خلکو او ټولني پټېږي او ګومان به کوي چي ښه کار یي کړی دی. له دې امله خلافت به د دغو سطحي فکرانو په زړونو کي خپل اهمیت او عظمت له لاسه ورکوي، تر دې بریده چي یو ښه نوم به وي او هر څوک به پرته د هغه له محتوا څخه ترې استفاده کولی شي ... دا هغه څه دي چي باید بحث او ځنډ پرې وشي، په ځانګړي ډول په داسي وخت کي چي د تېر په پرتله د خلافت تاسیس ډېر را نږدې شوی دی او مسلمانان یي هم په بې صبرۍ انتظار کوي. هغوی حزب التحریر هغه ډله ګڼي چي په دې لاره کي یي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه حرکت کړی دی چي بالاخره یي په مدینه منوره کي هغه تاسیس کړ.... دوی دغه راز باور لري چي د امت او حزب ترمنځ ژوندی، عبرتناک او اغېزناک تفاعل شوی، چي په ترڅ کي یي امت حزب په خپله غېږ کي نیولی. د دغه تفاعل له امله مسلمانانو د اسلامي اخوت (ورورولۍ) معنی درک کړې ده او خپله دا د خلافت په جوړولو او د امت د چارو په غوره سرپرستی کي د حزب په بریالیتوب

د خیر بشارت ورکوي، چې بالاخره حزب د نبوت پر منهج د خلافت د تاسیس وړ ګڼي ... په داسې وخت کې دا اعلان کیږي او د سطحي فکرو په ذهنونو کې د خلافت د واقعیت ناسم تصویر وړاندې کوي ....

**۶.** دغه ټول د استفهام یا پوښتنې نښه ګرځي، بلکې نښې ... د دغه اعلان دوخت په اړه، له څرګند سلطان پرته، تر څو لږ تر لږه د اعلان د خاوندانو د دولت لپاره په داخل او خارج کې امنیت تامین کړي، بلکې ان په فیسبوک او رسنیو کې ... دا وخت د شک وړ دی. په ځانګړي ډول وسله وال حرکتونه د غیر فکري تکتل پر اساس جوړ شوي دي، په هغو کې ننوتل اسانه کار دی او په لیکو کې یې د شرق او غرب د اشرارو ننوتل ساده خبره ده او ښکاره ده چې شرق او غرب د اسلام او خلافت پر وړاندې مکر او چل کوي. دوی ته یوازې دا اهمیت لري چې د خلافت تصویر ناسم وښیې، په داسې حال کې چې نه شی کولی بشپړ نوم یې له منځه یوسي. هغوی اوس دې ته پام کوي چې هر څوک یې له محتوا او هر ډول دغدغې پرته وکاروي، په هغه صورت کې به وکولی شي هغه لویه پیښه چې کفار د ټکې (تندر) په شان حیرانوي، یوازې په یوه تش نوم بدل کړي، ترڅو په واسطه یې له خپلو دښمنانو سره شپه او ورځ توکې وکړي!...

**۷.** خو له دې ټولو مکرونو سره سره چې اشرار یې کوي، موږ د اسلام شرقي او غربي دښمنانو، د هغوی مزدورانو، پیروانو او جاهلانو ته په ټینګار سره وایو چې خلافت هغه نظام دی چې نړۍ یې د پیریو لپاره په ښکاره، نه په مجهوله توګه رهبري کړه، اګر که د هغوی هر څومره مکر او چل شتون درلود ﴿وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾ یعنې: هغوی هم مکر کاوه او لارې چارې یې لټولې او الله سبحانه وتعالی هم له دوی سره مکر کوي او الله سبحانه وتعالی تر ټولو غوره چاره جوړوونکی دی. له شک پرته الله سبحانه وتعالی د خلافت لپاره داسې حزب جوړ کړی، چې پر شاوخوا یې داسې کسان را ټول شوي چې د الله سبحانه وتعالی له ذکر پرته هېڅ ډول سوداګري او بیعه هغوی له خپل مسیر څخه نه منحرفوي. خلافت یې په زړونو، سترګو او غوږونو سره احاطه کړی. د هغه لپاره یې دقیقه تیاري نیولې ده. د هغه احکام، دستور (اساسي قانون)، په اداره او حکومتولۍ کې یې د هغه جهازونه (اداري) استنباط کړي دي او د اقامې په لاره کې یې له هر بل لوري پرته یوازې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه پسې اقتدا کړې ده، ... د الله سبحانه وتعالی په اذن سره دوی هغه جوړښت دی چې د هر اړوند شک مخه به نیسي، هغوی هغه سخته ډبره ده چې د کفارو، د هغوی د مزدورانو او پیروانو ټولې دسیسې به د الله سبحانه وتعالی په مرسته نابودوي. هغوی هغه واعی (د عقیدې له مخې پوه) سیاستوال دي چې د الله سبحانه وتعالی په قوت به د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو کید د هغوی خپلو سینو ته ورګرځوي. ﴿**وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ**﴾ یعنې: ناوړه چل او مکر یوازې د مکرجنو لمن نیسي.

**اې عزتمنو ورونو!**

له شک پرته د خلافت چاره لویه موضوع ده او جلیل شأن لري. د هغه تاسیس به یوازې داسې خبر نه وي چې غولوونکې رسنۍ پرې لوبې وکړي، بلکې د الله سبحانه وتعالی په اذن سره به داسې یوه دوامداره زلزله وي چې ټول نړیوال موازین به ګډوډ کړي او دتاریخ پاڼې او د هغه لید به د هغه په حکم بدل شي ... او خلافت به د نبوت پر منهج را ګرځي، داسې چې رسول

الله صلى الله علیه وسلم یې زېرى ورکړى دى. هغه کسان چې هغه اقامه کوي، د هغو کسانو په شان دي چې لومړنی راشده خلافت یې جوړ کړى وو. هغوی اتقیاء (پرهیزګاران) او انقیا (سپېڅلي) دي، امت له هغوی سره او هغوی له امت سره مینه لري، امت د هغوی په لیدو نېکمرغه کیږي او دوی د خپل امت په لیدو سره د سعادت احساس کوي، نه دا چې شتون یې په خپل منځ کې د انکار تر بریده بد وګڼي ... د نبوت پر منهج د راتلونکي خلافت اصحاب داسي دي. ځکه الله سبحانه وتعالی هغه داسي کسانو ته ورکوي چې وړ یې وي او موږ له الله سبحانه وتعالی څخه هیله لرو چې موږ د هغه اهل او څښتنان وګرځوي. له الله سبحانه وتعالی څخه غوښتنه کوو چې د هغه د اقامې منت پر موږ کیږدي ﴿**فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ**﴾ یعني: نو زیرى ورکړى د هغه بیعې په اړه چې تاسو ترسره کړې ده. پس له الله سبحانه وتعالی نه مه ناهیلي کېږئ، الله سبحانه وتعالی تاسي نه ضایع کوي. اې عزتمنو ورونو، هغه زحمت چې تاسي ایستلی او هغه دعوت او دعا چې تاسو ترسره کړې د هغو هېڅ ډول رد نشته او په هغه هیله چې تاسي یې لرئ، هېڅ نا هیلیتوب پکې نشته، پس په قربانی او زیاتي ورکړې سره له موږ سره مرسته وکړئ او له خپله ځانه الله سبحانه وتعالی ته خیر ښکاره کړئ، تر څو هغه سبحانه وتعالی خیر درته زیات کړي او هېڅ شی باید تاسي په بې ځایه خبرو له صادق او جدي عمل څخه منحرف نه کړي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

۱۴۳۵هـ، د رمضان ۳مه

۲۰۱۴/۷/۱م

ستاسې ورور، پخوانی ځواب پای ته ورسېده او درواستول شو.

زه هیله لرم چې بسنه وکړي، **وفقكم الله وأعانكم، وهدانا الله وإياكم إلى أرشد الأمر**

**ستاسو ورور عطاء بن خلیل أبو الرشتة د حزب التحریر امیر**

**۱۴۳۵هـ، د رمضان ۴ مه**

**۲۰۱۴/۰۷/۰۲م**